وبهذات شهادات مسلمانسیستیم
تابرمردم گواه باشید وپیامبر صلی الله علیه وسلم شاهد گواه باشد

(٤) صفحه

# شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (١١٢٦) سال نزدهم شمارهٔ (٢٣) دوشنبه (٣) ثور
١٣٧٥ هـ ش (٤) ذی الحجه ١٤١٦ هـ ق - (٢٢) اپریل ١٩٩٦ م

# احمدشاه مسعود ډیلي او ماسکو ته داد ورکړی چې له پاکستان سره اړیکو ته به ددوی په دوستی ترجیح ورنکړی

## له پاکستان سره جدی ستونزې لرو، چې هغه حل نشی روابط مونشی حل کیدای

کابل - دغویی دوهمه :
له کابل څخه یوې موثقې منبع شهادت ته وویل چې احمدشاه مسعود ډیلي اوماسکو ته داډ ورکړی چې له پاکستان سره دوستي ته به هیڅ کله ددوي دوارو تردوستي ترجیح ورنکړي .
دغه منبع همدارنګه وویل، مسعود ډیلي اوماسکو ته دخپل اطمینانیه پیاموتو په ترڅ کې داډ ورکړی اوویلي یې دي چې له پاکستان سره زموږ دروابطو دښه کیدو خبرونه تراوسه په ابتدایي مرحله کې دي، اوله هغوي سره موږ جدي مشکلات اوستونزې لرو، او ترڅو چې زموږ هغه ستونزې نه وي حل شوي ، زموږ اړیکي له پاکستان سره نورمال کیداي نشي .
رپوټ وایي احمدشاه مسعود دوډیلي مقاماتوته څرګنده کړي ده ، سیاسي هغه مرستي چې په دیروسختو اوستونزمنو شرایطوکي موله موږسره کړي موږ هیڅ
(٤)مخ

## راکت باران روز گذشته درکابل ٢٤ نفرکشته وزخمی بی گذاشت

کابل - ٢ ثور :
مناطق مختلف شهرکابل طي بیست وچهارساعت گذشته مورد حمله راکتي نیروهاي طالبان قرارگرفت .
براساس گزارشهاي رسیده ازشهرکابل درین حمله راکتي و گلوله باران ٦ نفرکشته و ١٨ تن دیگرزخمي شدند وبه یك مسجد وپنج باب منزل مسکوني خساراتي وارد آمد .
قراراین گزارش درجمله مجروحین چندتن ازاطفال معصوم نیز شامل میباشند.

## الهی لارښوونې

که کله موږانسان ته دخپل رحمت په برخه کولونه وروسته بیرته یې له هغه څخه بې برخي کړونو هغه ناهیلي کیږي اوبه ناشکري لاس پورې کوي او که له هغه کړاونه وروسته چې برخه باندي راغلي و موږ پـه هغه باندي دنعمت خـوندرڅکو نووايي زماتوله بیوزلي ایسته شوه ، بیـا هغه ډېره خوښي کوي اوویاړي . لـه دي عیب نه که څوك پاك دي نوصرف هغه کسان چې صبر کوونکي او نیکوکاران دي اوهغوي دي چې دهغوي لپاره هم بښنه ده اوهم لوي مکافات .
( هود - ٩ - ١١ )

## قاضي حسین احمد په کابــــل کـــــي له اســـتاد رباني اواستــــاد سیــاف سره وکتل

دکابل ددولت رئیس استادرباني اواستادسیاف دپاکستان دجماعت اسلامي دمشر اوددغه هیواد دسنامجلس له غړي قاضي حسین احمدسره وکتل .
دکابل څخه د رارسیدلي رپوټ په اساس پــه دې کتنه کي استادرباني دهیواد دوروستیو پرمختګونو په باره کي خبري وکړي اوددولت دسولي دنوښتونو یادونه ئې وکړه .
(٤)مخ

## جنبش اسلامی حماس فلسطین

# درصورت متوقف نشدن حملات رژیم صهیونست برجنوب لبنان ، به عکس العمل جدي متوسـل خـواهـد شد

بیت المقدس - ٢ ثور :
درحالیکه حملات وحشیانه وبیدریغ نظامیان اشغالگررژیم صهیونست برمناطق مختلف جنوب لبنان ادامه دارد جنبش اسلامي وحماس، فلسطین اخطار کرده است که اگراین حملات متوقف نگردد، مبارزان فلسطیني یکبار دیگر باحملات شهادت طلبانه خود تل ابیب رابخاك وخون خواهند کشانید .
ص(٤)

# رافل دایران په خلاف دطالبانو له څرګندونو سره زیاته دلچسپي ونه ښوده

## امریکایــان دظاهرشاه دراوستـو لـه طرحي لاس پـه سـر شـوي دي

## طالبان دپاکستان دځینو حلقو او بعضی نورو طاقتونو په نظر دپاچا دراوستو انګیزونه وسیله وه څو لـه خپل ماموریت نه یې بغاوت وکړ

اسلام آباد - دغوایي ٢ مه :
یوې ډېرې باوري منبع پرون دشهادت خانګړي خبریال ته وویل چې فعلاً امریکایان د افغانستان دپخواني پاچاظاهرشاه دراوستو له طرحي لاس په سرشوي دي. اودي نتیجې ته رسیدلي دي چې داکاروملګرو ملتوسازمان ترنامه لاندي دیوه بهرني پوځ ترمداخلي پرته ممکن ندي، اوداکاردافغانستان دولس دحساسیت په نظرکي نیولوسره پرځاي ددي چې کړکیچ حل کړي ، په افغانستان کي به یوه خونړي ، اوږده ، اوملاماتونکي جګړه رامینځ ته کړي .
منبع وویل چې دپاکستان دځینوحلقو او بعضي نورونړیوالو طاقتونو لـه نظره دطالبانو غورځنګ دپخواني پاچا د راوستلو لپاره انګیزه لار پلل شوي وه ، خودددي په قول طالبانوله خپل دي
(٤)مخ

## پیرسیداحمد ګیلاني رهبر محاذملي اسلامي طی یك جلسه تنظیمی اظهار داشت

# افـغـان هاي مقیم اروپا خواهان قطع درگیري ها ي موجود در افغانستان شدند

پشاور - ٢ ثور :
شوراي اجرائیه محـاذ ملي اسلامي افغانستان تحت ریاست پیرسیداحمد ګیلاني در پشاورتشکیل جلسه داد .
طبق گزارش یك منبع محاذملي اسلامي ، دراین جلسه رهبرمحاذملي اسلامي درموره سفرش به اروپا توضیح داده اظهارداشت که افغان هاي مقیم اروپا ازرهبران افغانستان خواهان متوقف شدن درگیري هاوتأمین صلح وثبات درکشورشان گردیدند .
درجلسه مذکور راجع به تلاش هاي

## دنظار شوري مرستیال داکتر عبدالرحمن دانګلستان دبهرنیو چارو وزارت له مرستیال سره وکتل

کابل - دغوئي ٢ مه :
دکابل دولت دملکي چلند او توریزم وزیر داکترعبدالرحمن دانګلستان دبهرنیو چارو دوزارت مرستیال سره په لندن کي وکتل .
دخبري منابعو دریوټ په اساس داکترعبدالرحمن دانګلستان دبهرنیوچارو دوزارت په مرستیال برسیره دافغانستان اوپاکستان دبرخي له مسئول سره هم په افغانستان اوسیمه کي دحالاتو وروستیو تحولاتو په باب خبري وکړي .
ص(٤)

## پرلبنان بانـدي دځه لپاره حمله وشوه ؟

## داسراتیلو مخالف گوندونه داسلامی بنسټ پالی په تکونه کی شمعون پریز ناکام گنی

### لویدیز اواسرائیلی مطبوعات حزب الله دڅوی او ځواکمن غورځنګ په توګه مطرح کوی

دصهیونست رژیم پوځ دحزب الله دچریکانو په خلاف دحملي ترنامه لاندي داپریل په (١١) مه دبیروت دهوایي ډګرپه شاوخواکي ،دخلکوهستوګني سیمي تردرندې بمباري لاندې ونیولي چې (٥) تنه بې ګناه افراد پکې ووژل شول همدارنګه دسعدون جاړیه ساحلي سړك باندې (٦) تنه ووژل شول . پداسي حال کي چي دوتایره په بندري ښارګي دلبنان دپوځ پرعسکرواسرائیلیانو په وژو ووژل شو.
همدارنګه دبهاري په دوهمه ورځ دبیروت هوایي ډګرته نژدي دسوریي دوسلي جوړولو یوه کارخانه له مینځه یووړه .
که څه هم اسرائیلو دلبنان دجنوبي سیمورهستوګنو خلکوته دخپلو کورونو دپریښودو درګه کړي وه ، خودمعین ضرب الاجل تریووه کیدو وړاندې دصهیونیستي رژیم پوځونوپدې سیمو باندې بریډ پیل کړ، چې
(٤)مخ

### حملات زمیني وهوایي رژیم صهیونستي برمناطق مسکوني لبنان همچنان ادامه دارد

بیروت - ٢ ثور :
باوجود تحرکات گسترده سیاسي که طي چند شبانه روز گذشته دردمشق پایتخت سوریه براي تعین چارچوب آتش بس درلبنان جاري بود آتش باري عساکر رژیم صهیونستي برمناطق مسکوني لبنان باشدت تمام ادامه داشت .
براساس گزارش خبرگزاري فرانسه طیاره هاوهلیکوپتر هاي رژیم صهیونستي درنیمه شب گذشته شانزده بارمناطق اطراف شهرسوروونبطیه رامورد حمله قرارداده وتوپخانه رژیم صهیونستي
ص(٤)

## مجله مشهور «هیرالد» چاپ کراچی می نویسد :

# اسلام آباد ازتعهد خود نسبت به طالبان نه پیروزی عاجل ونه هم منافع سیاسی بدست آورده است

### ایران تا حال به اسماعیل خان اجازه نداده که ازقلمرو ایران هرات را مورد حمله قراردهد

## امـریـکا خـواهـان سـد نـفـوذ ایـران در افـغـانـسـتـان اسـت

احمد رشیدیکي ازچهره هاي سرشناس وبرجسته، مطبوعات پاکستان میگوید: «اینك به نظرمیرسد که سیاست پاکستان مبني برحمایت ازطالبان برهرقیمتي که باشد، نتیجه معکوس بارآورده است .» وي نتیجه گیري فوق رادرلابلاي سطورمقاله اي بعمل آورده است که درشماره، ماه اپریل سالجاري میلادي (١٩٩٦) درمجله،ماهـوار هیرالـد Th Herald بچاپ رسیده است.
نویسنده تحلیل خودرا ازمروري برحوادث اواسط ماه فروري سالجاري میلادي (ماه دلوسال ١٣٧٤ هـ ش ) آغازکرده، ومینویسد که پاکستان درآنزمان
ص(٤)

## رابن رافل درگفتگو باخبرنگاران درمیدان هوایی بگرام :

# به موافقت نامه صلح میان طرف های درگیر درافغانستان ضرورت مبرم احساس می شود

## واشنگتن خواهـان حل صلح امیـز بـحـران افـغـانـسـتـان ، بـدون دخـالـت کـشـورهـای خـارجـی مـی بـاشـد

کابل - ٢ ثور :
دلچسپي امریکادرمورد اوضاع وجریانات افغانستان بیشترشده وواشنگتن آمادگي خودرا براي پایان دادن جنگ هاي خونین دراین کشور ابرازداشته است .
طبق گزارش منابع خبري رابن رافل معین وزارت امورخـارجـه امریکا درامورجنوب آسیا که پس ازسفرش به پاکستان وارد میدان هوایي بگرام شد، طي صحبت باخبرنگاران بانذکرمطلب فوق ، اظهارداشت اداره کلنتن آرزودارد تاجناح هاي متحارب افغان منازعات واختلافات خودرا ازطریق مسالمت آمیز
ص(٤)

## دکابل دولت دسرحداتو وزیر صدیق چکری دیوی مرکې په ترڅ کی وویل :

# په زیاتـرو مسایلـو موافقـه شوی ده او پاتی خبری دمشوری لپاره لږ وخت غواړی

### داسی توقع کیږی چی پدی څو ورځو کی به دحزب اسلامی یو لوړرتبه هیئت کابل ته لاړشی

جلال آباد - دثور ٢ مه :
پرون په جـلال آباد کي دکابل دولت دسرحداتو وزیرصدیق چکري شهادت ته دیوې مرکي پـه ترڅ کي ووېل : دکابل اوحزب ترمینځ پـه زیاتروخبرو موافقه شوې ده اوپاتې خبرې دمشورې لپاره لږوخت غواړي، نوموري زیاته کړه دحزب اسلامي افغانستان چې کوم کسان کابل ته راغلي ژ هغوي ددولت دتولو لیدنونه رضایت ښکاره کړي، دکابل هیئات چې په لغمان کي دحزب اسلامي دامیرسره وکتل هغه هم راضي دی.
(٤)مخ

## یك جاسوس (٥١) ساله اسرائیل درمصر محکوم به حبس ابد شد

اسلام آباد - ١ ثور :
یك محکمه خصوصي مصریك شخص مصررا به جـرم جاسوسي براي موساد سازمان اطلاعات مخفي اسرائیل محکوم به حبس ابدکرده است .
طبق گزارش نواي وقت این شخص (٥١) ساله عامرسلیمان علي نام داشته ودریکي ازمکاتب فلسطین بصفت دربان اجراي وظیفه میکرد .
درگزارش آمده است کـه وي ازسال ١٩٨١ به این طرف وظیـفه داشت تانقل وانتقال ارتش و سایر اسرار نظامي مصر راکشف وبه اسرائیل گزارش بدهد .
ص(٤)

په لبنان کي یوه زړه ښځه د خپل کور د وراني له کبله اسرائیلیانو ته ښیراوي کوي.

# واشنـگـتـن خـواهـان جـلـوگـیـری انـتـقـال اسلـحـه ازخـارج بـداخـل افـغـانـسـتـان اسـت

## ازارسال اسلحه به تمام میدان های هوایی افغانستان باید نظارت به عمل اید

اسلام آباد - ٢ ثور :
براي متوقف ساختن وجلوگیري از ارسال اسلحه به افغانستان مانیتورهاي مخصوص درمیدان هاي هوایي افغانستان نصب خواهند شد .
بنابرگزارش روزنامه جـنـگ چاپ راولپندي رابـن رافـل معین وزارت امورخارجه امریکا در امورآسیا وکارکنان سفارت واشنگتن دراسلام آباد براي مؤثرساختن عدم فراهمي هرگونه اسلحه اینکه ازخارج وارد افغانستان مي شود دست بکارشده اند .
پاکستان پیشنهاد کرده کـه بخاطر نظارت بـي طرفانه قضیه باید بشمول میدان هوایي بگرام درچهارمیدان هوایي دیگر افغانستان نیز این آله تفتیش کننده نصب شود .
مطابق طرح پیشنهاد شده پاکستان،
ص(٤)

## دسختو بارانونو اوسیلابونو له امله:

# دفیض آباد دښـــار ٢٠٠ کـــورونه اودکـــانـــونـــه زیـانمن شـــول

فیض آباد - دغویي دوهمه :
دفیض آباد پـه ښار کي دسیلاب دراوتلولـه امله ددغـه ښارخلکوته زیات مالي تاوان وراوښتي دي .
دبدخشان له ولایت څخه دارارسیدلي
(٤)مخ

دعوتنا والی سبیل ربک ... (خوشنویسی)

# شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
**صاحب امتیاز:** حزب اسلامی افغانستان
**مؤسس:** انجنیرحکمتیار
**ناشر:** ریاست ارشادوفرهنگ
**سرمحرر:** محمد نذیر «بشارت»
**تحت نظر هیئت تحریر**
**تلیفون:** ٢٥٦٣٧٨٩
**آدرس پستی:** ١٠٣٦ یونیورستی تاون - پشاور

## دهیوادد ویش خطر

زموږګرانو لوستونکو پرون په شهادت کي د حزب دامیر ورورو«حکمتیار» داخبره ولوستله چي «دښمنان غواړي زموږ هیواد ټوټې، ټوټې کړي ... اوس هغوي ترهغې مرحلې تیرشوي چي جهاد اومجاهدبدنام کړي اوغواړي دافغانستان دتجزئې په اقدامونو لاس پوري کړي ....»

زموږملت ددي خبر شاهددي چي په تیرو تقریباً دوولو جنجالونو، پیچلتیا وو، اوتوطیو ډکو لسیزوکي دحزب قیادت تل دپردیو له پټونیتونوپرده پورته کړي ، خطرونوته ئي ګوته نیولي، دخطرپه وخت کي ئي په خپل ولس دبیداري غږکړي، په هرپړاوکي چي زموږدملت دجهاد اواهدافو په ضدلاسونه رااووړده شوي، اوداسرچ ئي کړي چي دتورې شپې دغلو په خبر به په تیاره کي وهنه وکړي اوپه تیاره کي به له نظرونو پټ شي .

حزب بې له دې چي خپل یولړمشخص مصلحتونه په پام کي ونیسي، بې له دې چي دسیاست اوډیپلوماسي د«مروج احتیاط» رعایت وکړي، بې له دې چي دتوطیه ګرو داوړدولاسونوله شراوضررنه وویریږي، بې له دې چي په اصطلاح له چانه د«اعتدال » اوه خونسردي » دسند دترلاسه کولوپه فکرکي شي اوبې له دې چي دډیرمحدود وخت لپاره ځانته د«وګوره اوانتظاروکړه » دروش دغوره کولو اجازه ورکړي، په ټول زور، په ټول صراحت اوبې پروائي زموږدجهاد داهدافو دبربادوولواوزموږدملت دسرنوشت اومستقبل دبرمته کولو کردارونه بې افشاکړي دي، دهغوي په نقشوني ټکونه

کړي، دهغوي دبندو ڝالونونوړیکړي ئي په ډاګه کړي اوپه دي توګه بې دهغوي ارادې له یوه بیدار ملت اوحساس عامه ذهنیت سره مخامخ کړي دي .

البته داانتقاد بیا په خپل ځاي کي وزن لري اوبایدزموږ قیادت ئي دمنلوجرئت اوشهامت ولري چي دډښمنانو ددي توطیو دشندولو اودهغوي له منځ نه دجهاد اوملت دسالم پوري ایستلو لپاره لکه څنګه چي لازمه وه هغسي دقیقه عملي کړنلاره نه ده وضع شوي. خوله دي نه هیڅ بالانصافه افغان سترګي نشي پټولاي چي دحزب قیادت په جرئت، صراحت اودخطرډمنلوپه روحیه داسلام اوزموږدملت دډښمنانو توطیې افشاکړي اوپه وړاندي ئي دمقاومت بیرغ پورته کړي دي .

پسه دي ورڅسوکي متاسفانه بوځل بیا دځینوطاقتونو له خوا زموږدهیواد دویش ناوړه طرحه ترجدي توجه لاندي نیول شوي، په همدي وجه دحزب امیر په ټولو مسلمانو اوبااحساسو افغانانو غږوکړچي ددي ناوړه خطردمقابلي لپاره یوبل ته سره لاسونه ورکړي اودهیواد دبحران حل ته ملاوتړي .

واقعیت دادي چي ځینومهمو طاقتونو دبین المللي موجودو اواحتمالي متوقع انکشافاتو په پام کي نیولو سره ،داسلامي نړي اوددي سیمي په باب دخپلي ستراتیژي له مخي چي باید بې ثباته اوپه جنجالونوني اخته وساتي غواړي چي افغانستان په دوویرخوووېشي .

په دي باره کي بوتریخ واقعیت دادي چي متأسفانه په دي لړکي ځیني داسي هیوادونه له یوبل سره دهم آهنګ کیدو په حالت کي دي چي هغوي په نوروماسابلو کي «دیوبل سیوري په تورېك ولي » په دې باندي غږیدل چي داطاقتونه اوهیوادونه ولي داشوم نیت لري، غږیدل په دي مقاله کي نه ځائیږي ، خومتأسفانه ددي لپاره یولړ اقدامونه په پورته کیدو دي چي نورددي هدف لپاره بومشهودحرکت وشي .

له دي نه هیڅ انکارنشي کیداي چي زموږملت له یوه مثالي اومضبوطه ملي وحدت نه برخمن دي، دکومو توپانونو په وړاندي چي زموږدملي وحدت عنصر مقاوم پاتي شو، هغه حیرانوونکي دي.

مګرګه همداوضع روانه وي، بدمرغي اوفاجعي ورځ په ورځ پیچلي شي، ژوري شي اوله زغم اومقاومت نه ووځي، هره خواناامیدي شي، هره خواناچاري اوبې وسي شي، ووروستي اسري هم بې ځوابه پاتي اوبالاخره دنجات دوروستیو هیلو مناروونه هم ونړیږي ، بیا ددي دردناکي فاجعي دواقع کیدو احتمال هیڅوك نشي ردولاي چي زموږدمسلمان خوناکړدو اوخیانتونوکوفته کړي ملت ووروستي حوصله هم ختمه شي، دمقاومت ووروستي عنصرئي هم ځواب ورکړي، اوخداي (ج) مکړه دیوه بې وسه ، مایوس اوبې اسري قوم په توګه دمظلومیت اوناوسي دځواوبنکو په توپولوسره دحوادثو دڅپو اواغیارو دنقشو بې زحمومنګولو ته ځان وسپاري .

ددي امت ځپونکي فاجعي مسئول په ټول هغه بدنام کردارونه وي چي دپردیو په اشارو مست، دپردیو په مرستو دجګړو په لمبوکي په قدرت کي دپاتي کیدو اوقدرت ته درسیدوهوس اخیستي دي .

همداراز په دي درنه فاجعه کي به ټول هغه عناصر مسئول وي چي ددي ملت اوجهاد له برکته دهرڅه خاوندان شول خودملت دژغورني په لارکي کراوګاللوته چمتونه دي .

---

# کشمکش جدید مسکو و واشنگتن برسرمسئلهٔ افغانستان

حامد

محمد زاهد نویسنده، شهیر پاکستانی در تحلیلی که از اوضاع افغانستان در هفته نامه، ویکند پوست « WEEKEND POST »مؤرخه، جمعه ۱۹۹٦/۳/۱۹میلادی ( ۳۱/ ۱/ ١٣٧٥ هـ .ش .) بچاپ رسیده است ، نفـوذ روز افـزون ایران در افـغانسـتان ، وورود هند به صحنه، افغانستان ، تبارزمجدد روسیه بعنوان یك قدرت بزرگ منطقوی وجهانی و پیروزی کمونستان در انتخابات پارلمانی روسیه را نه تنها در تجدید علاقمندی ایالات متحده امریکا به معضله، افغانستان عوامل کلیدی میخواند ، بلکه معتقد است که پیروزی مخالفین یلتسن در انتخابات ریاست جمهوری ، اثرات گریز ناپذیری بر روند تحولات در افغانستان برجا خواهد گذارد . ترجمه، دری این تحلیل را باهم میخوانیم .

مترجم

ابتکارات صلح ارائه شده ازجانب حلقات مختلف در سال گذشته ، با سرعت زیاد خود به فاجعه مبدل میگردد و درهمین شرائط است که ایالات متحده، امریکا باری دیگر وارد صحنه، افغانستان میشود .

آنچه ایالات متحده را به تحرك واداشته است منافع ژئو-پولتیك (جغرافیوی - سیاسی ) این کشور است ، وهدف از ورود مجدد به صحنه، افغانستان، تسریع فعالیتها در سطح منطقه به منظور حل معضله، افغانستان است .

عده، زیادی از افغانان را اعتقاد بر آنست که پس از انسحاب قوای متجاوز اتحاد شوروی از افغانستان و اختتام جنگ سرد ، عملکرد ایالات متحده غیر منتظره بوده است . انتظار اکثریت مردم این بود که ایالات متحده در راستای اعاده، صلح در کشور جنگزده افغانستان، به وظیفه اخلاقی خود یعنی ایفاء نقشی برجسته ، التزام ورزد . گرچه درین مدت واشنگتن تلاشهای مقطعی ای بعمل آورد تا صلح در کشوری که ازچند سال باینسو باخود در جنگ بوده است اعاده گردد ، ولی این تلاشها برای هیچ جناحی دلچسپ واقع نشد .

افغانان همواره اینگونه تحرکات را تلاشهای مذبذبانه و دو دلانه تلقی کرده اند . درماه جون سال گذشته مسیحی ، جان سی . مونجو سفیر کبیر وقت ایالات متحده، امریکا مقیم اسلام آباد ، همراه با سه تن از دیپلوماتان امریکایی به چند مرکز قدرت در افغانستان سفرکرده وبا بازیگران عمده، مسابقه، وبزکشی سیاسی ءآن کشور دیدار بعمل آورده .

آن مسافرت مسلماً تبادل نظر با افغانان در مورد نزدیکی روابط فی مابین ایران و حکومت پریزدنت ربانی و افزایش فعالیتهای تروریستی درجهان بود . اگر گفته شود پس از انهیار امپراطوری اتحادشوروی ، ایالات متحده ومتحدین غربی اش کشوری را کـه در آن رقـیب عـمـده، آنهـا از زانو در آورده شده بود یکلی نادیده گرفته و فراموش کردند ، سخن به خطاء نخواهد رفت . اما ، دیری نگذشته بود که این کشورها دریافتند که تداوم انارشی و هرج مرج در افغانستان ، برصحنه اقتصادی و سیاسی منطقه ، اثرات تکاندهنده ای وارد آورده است .

افغانستان آشفته حال و پر هرج و مرج خطر بالقوه ایست که ثبات این منطقه را تهدید میکند و درهمین منطقه است که قدرتهای بزرگ جهان تهدیداتی متوجه منافع اقتصادی وسیاسی خود می بینند . این تنها داعیه صلح وثبات ، یا صلح در افغانستان نیست که باعث شده باشد تا مغزهای متفکر امریکایی افغان پالیسی خودرا مورد تجدید نظر قرار دهند . بلکه تحولات متغیر منطقوی بصورت خاص وجهانی بصورت عام نیز درین امر دخیل بوده اند . افغانستان کشوریست که در آن زخمهایی که امریکاییان درجنگ ویتنام بر داشته بودند ، التیام یافت . ولی امریکاییان در استفاده از فرصت جهت اعاده، صلح به این کشورو حفظ منافع طویل المدت خود در افغانستان غفلت کردند . هرچه بود گذشت ولی دیگرامریکاییان نیتوانند بیشترازین کارت ویرگه، افغانستان را مخفی و نزدیك سینه، خود نگهدارند. ساحه، نفوذ ایران درافغانستان رو به گسترش است . هند به یکی از بازیگران عمده ولی غیر مشهور قضیه، افغانستان مبدل شده است . تجارت مواد مخدر نیز در حال افزایش است .للا ، میتوان گفت که منافع جدید امریکا اقتضاء میکند تا وسایل وابزاراعاده صلح به کشورجنگزده، افغانستان را مورد بررسی قراردهند . در عین حال ایالات متحده از درك این مسئله نیز غافل نبوده است که سازمان ملل متحد در آوردن صلح بین جناحهای رقیب افغان ناکام گردیده است که درنتیجه افغانان که از چند سال باینسوقربانی جنگ داخلی بوده اند ، تدریجاً اعتقاد خود به موفقیت این سازمان معتبر جهانی را ازدست میدهند . به همین جهت است که واشنگتن تلاش میورزدتا بتواند برای طرح صلح سازمان ملل متحد درافغانستان ،جلب حمایت کند.

از طرف دیگر برسرمسئله افغانستان ائتلافهایی بین کشورهای مختلف علی الخصوص هند ، روسیه ، ایران و دول ماوراء النهر در شرف تشکل است . اخیراً ملاقاتی بین وزراء امورخارجه، فدراسیون روسیه وهند صورت گرفت که در پایان این ملاقات ایوگینی پریماکوف وزیر امورخارجه روسیه اعلام داشت که با همتای هندی اش بر سر نحوه برخورد با قضیه، افغانستان بر استراتیژی مشترکی تفاهم کرده است . در همین رابطه پرناب مکرجی وزیر خارجه هند اعلام داشت که دولتین روسیه وهند بر سراین نکته به توافق رسیده اند که به هیچ وجهی مداخله، طرف ثالث را در امور افغانستان تحمل نخواهند کرد . این مقام عالیرتبه، هندی پا را ازین حد هم فراتر گذارده و اعلام داشت جنبش اسلامی طالبان موردحمایت پاکستان است ونباید اجازه داد که این جنبش بتواند در قضیه افغانستان نقش عمده ای داشته باشد .

اهداف ومقاصدی که روسها در افغانستان تعقیب میکنند، واضحتر از آنند که نیازی به توضیح آنها باشد . آنچه حکومت هند میخواهد این نیست که در راستای اعاده، صلح در افغانستان نقشی ایفاء کند، آنچه هندیان میخواهند اینست که برای پاکستان معضلات و دردسرهایی خلق کنند . هند که در گیر انتفاضه و قیام کشمیر است ، نمیخواهد اقتصاد پاکستان درنتیجه، دستیابی به بازارهای ماوراء النهر ، تقویت گردد .هند عزم را جزم گردانیده است تا نفوذ خود را در افغانستان گسترش دهد و آنگاه بتواند مانع بر قراری روابط تجاری پاکستان با کشور های همسایه افغانستان گردد .

در همین زمینه، سناتور هینك براون مقام امریکایی به افغانستان سفر کرده و بارهبران مختلف افغان که ازجناحهای مختلف در آن کشور نمایندگی میکنند ، به تبادل نکته نظرات پرداخت درکابل وی با قوماندان مسعود ملاقات بعمل آورد ،سپس به ملاقات حکمتیار شتافت ، آنگاه درجلال آباد«استادسیاف ، الحاج عبدالقدیروالی ننگرهار ومحمود مستیری نماینده خاص سازمان ملل متحد در امور افغانستان دیدار کرد .

سناتور براون میخواست جهت دیدار با رهبران طالبان وارد قندهار گردد ، ولی بنا ، به دلائلی این ملاقات صورت نگرفت.

ناظرین افغان را عقیده بر آنست که طالبان متعمداً از ملاقات با سناتور براون ابا ، ورزیدند. زیرا طالبان مکرراً مورد اتهام قرار گرفته اند که خط مشی خود منطبق با ستراتیژیهای ایالات متحده برای آینده ، افغانستان طرحریزی میکنند .

درخلال همین سفر بود که سناتور براون اعلام داشت سعی دارد با همکاری سازمان ملل متحد زمینه، بازگشایی سفارتخانه، ایالات متحده، امریکا را در کابل فراهم سازد .

در مورد ایران ، سناتور براون محتاطانه گام برداشت و گفت مداخله، بیگانگان را در امور داخلی افغانستان نمی پسندد ، در هیچ یك از مراحل سفرش ، براون چیزی نگفت که حاکی ازتجدید دلچسپی ایالات متحده در مسئله، افغانستان باشد .

نکته، جالب اینست که در ایام ماموریت حقیقت یابی سناتور براون در افغانستان ، جنرال عبدالرشید دوستم رهبرجنبش شمال ود اکثر عبدالرحمن نماینده، حکومت کابل بر اساس دعوت امریکاییان ، در واشنگتن بسر میبردند"بعداً یکی ازمقامات وزارت امورخارجه ایالات متحده تأئید کرد که جنرال دوستم مصروف یك مسافرت شخصی در آن کشور بوده و در هنگام اقامتش در ایالات متحده ، ملاقاتی با رابن رافل نیز بعمل آورده است .

میرمن رافل معین وزارت امورخارجه ، ایالات متحده، امریکا درامورجنوب آسیا بوده و ضمناً مسؤولیت امور افغانستان را نیز در وزارت امورخارجه کشورمتبوعش بعهده دارد .بر اساس گزارشها ، جنرال دوستم در واشنگتن صرفاً با مقامات دولتی امریکا ملاقات بعمل آورده است . چندی قبل جنرال دوستم مسافرتی داشت به اسلام آباد ، و در خلال همین مسافرت گزارش شد که این مسافرت یعنی مسافرت به پاکستان ، در راستای تجدید دلچسپی ایالات متحده درمسئله افغانستان صورت گرفته است . در همازمان گفته میشد که جنرال دوستم در ماه اپریل ، سفری به ایالات متحده خواهد داشت . در سناریو یی که برای نمایشنامه کنونی افغانستان نوشته شده ، جنرال دوستم بعنوان مقتدرترین فرد وارد صحنه خواهد شد . از دیدگاه حلقات ذیدخل در قضیه، افغانستان، دوستم دارای نقش مهمی در قضایا هست زیرا میخواهند در تحولات آینده، افغانستان ازوی بحیث یك وسیله استفاده کنند ،دوستم یك استراتیژیست بزرگ است ولی هرگز وانمود نکرده است که زعیم آینده، افغانستان خواهد بود .

درحالیکه وی دارای قدرت در هم کوبی هر نیروی نظامی در شمال کشور است . علاوه بر اینکه وی یك ستراتیژیست نظامی است ، گروهی از مشاورین متخصصین را نیز در کنار دارد که در حکومتهای گذشته مناصبی در اختیار داشتند .

امریکاییان از نیروی جنرال دوستم آگاهی دارند و در عین حال از وابستگی عمیق او به مسکو و تاشکند نیز بیخبر نیستند . هرگاه دوستم بخواهد طرف دیگری اختیار کند ، با عکس العمل خطر ناکی از ناحیه، مسکو و تاشکند مواجه خواهد گردید . موقعیت جغرافیایی ساحات تحت کنترولش به دوستم حکم میکند که نمیتواند روابطه تیره ای با روسیه و ازبکستان داشته باشد .جنرال دوستم ازین مسئله آگاه بوده ومیداند که میتواند از موقعیت برترخود استفاده بعمل آورد ولی نمیتواند چرخش داتروی داشته باشد .

واشنگتن با علاقمندی به تماشای نفوذ ایران ، هند و روسیه میپردازد . این نفوذ ابعاد خطرناکی به خود می گیرد وباید قبل ازینکه کنترول اوضاع از دست برود اقدامات جدی و شدیدی بعمل آورد . در راستای حفظ منافع طویل المدت خود درین منطقه ، امریکا دلائلی در دست دارد که باید مشوش باشد .

ازیك طرف ، روسها هنوزهم آینده، درخشانی برای خود در افغانستان می بینند . بر اساس گزارشهای واصله از مسکو ، برای اولین بار پس از انسحاب قوای روس از افغانستان ، دانشمندان و آکادمیسینهای روس در رابطه با اوضاع کشوری که برای آنان به زخم خونینی مبدل شده بود ، جلسات و سمینارهای مفصل و طولانی منعقد میسازند.

مقامات وزارت دفاع فدراسیون روسیه بصورت معلن میگویند اگردامنه، پیمان اوقیانوس اطلس شمالی یاناتو دراروپای شرقی گسترش یابد ، روسها مسلماً در جنوبشرق آسیا برای خود متحدینی پیدا خواهد کرد.این مقامات در همین رابطه از ایران، چین ، عراق ،کوریای شمالی و هند نام میبرند.

انتخابات ریاست جمهوری درروسیه ، فاکتور وعامل عمده،دیگریست که بر روند شکل گیری تحولات آینده در افغانستان، اثرات حتمی و اجتناب ناپذیری بر جا خواهد گذارد . پس از انهیار امپراطوری اتحاد جماهیر شوروی سوسیالستی، برای اولین بار است که کمونیستان بعنوان قدرت نیرومند درروسیه تبارز میکنند.پریزدنت بوریس یلتسین رئیس جمهور کنونی فدراسیون روسیه که طرفدارغرب است ، مبارزه، انتخاباتی شدیدی با گنادی زیوگانوف خواهد داشت.زیوگانوف رهبری حزب کمونست فدراسیون روسیه را بعهده دارد.

صفحه (٤)

---

## د «غمشریك» غمشریکی!

مغموم

دننګرهار دشوروی غوړی اود ننګرهارمشهور قوماندان محمد زمان « غمشریك » په دی وروستیو کی له وحدت وروڼیانی سره په اصطلاح په یوه ځانګړی مرکه کی فرمایلی دی چی زموږ هیوادوال باید موسیقی واوری ، دده په ادعا جګړوځپلی هیوادوال دجګړود ماتم اوستومانی دایستلو او غم غلطی په منظور موسیقی ته ضرورت لری . دده داخبری په جلال آباد کی د یوه رادیویی ترانسمیتر دنشراتی فعالیت دبیا پیلیدوپه اړه دی چی په نژدی راتلونکی کی به فعال شی اود غمشریك صیب په ادعا به زموږ هیوادوال بیاددی رادیویی ستیشن نه موسیقی هم اوری .

[illegible]

دمرګ هیولایی پر سرراخپره ده اوهره شیبه یی ژوند ، عزت اومال له ګواښ سره مخ وی .

هغه اولس به دموسیقی پر اوتال ته غوږ کیښودلای شی چی په هدیرو ولاړ وی ، په کندوالوکښی اوسی اودمرګ په کومی کی دخپل نوبت انتظارباسی؟!

نه پوهیږم غمشریك صیب به دی ته څه ځواب لری کـه نه چی دتوپونو او بمونو په درزهارکی د موسیقی ملایم ازانګی څرنګه غووږونوته رسیدلای شی ؟

زموږ داولس دوګړی وګړی په غوږونو کی دکریکو، فریادونو ، سلګیواوزګیرویو آزانګی دی ، چیغی دی، ټول اولس فریاد فریاد دی وایی له مرګه ،له لوږی او [illegible]

### له تکبیره تر فریاده

[illegible]

خوستا خبره ډیره غوره وه او که اوس هم زموږ ددی لکونو ځوانانو په وینوتورو وینو تویېدو مسخه ډپ شی. پردی پټیمانومو دنورو پټیمانو دزیاتیدو عوامل ورك شی نو ټول اولس نه یوازی دا چی باید موسیقی ته غوږ کیږدی بلکی له خوښی دی ټول ډولونه غاړی ته واچوی او ټول دی په نهره په ګډا سرشی .آخر پر جراز خو به وی زموږ توری شپی به سپا شوی وی ، زموږدرانده ماتم پای به وی او خود به ټول دخوښی جشن لمانځی ، که په تفلونواو خدای «ج» ته په شکرانه سجدونه وی په ګډا او اتن به یی ضرور ولمانځی .خو اوس !!!....

هورګه د غمشریك صیب مطلب دا وی [illegible]

[illegible]

این ره که تو میروی به ترکستان است

---

## دمولوی "رحمانی" صاحب فرمان

خیبر

عربي فلسفي اوشرنګارجبران خلل جبران په خپل کتاب (البوني ) کي یوه قصه لیکل ده . یو فریادي دبادشاه په دربارکي حاضرشو دښي سترګي څخه وینه روانه وه بادشاه تري پوښتنه وکړه چي تاسره داظلم چاکړیدي؟ فریادي ورته په جواب کي ووېل جناب عالي زه یوغل یم غلامسي روزګاردي بیګاه شپه دغلا دپاره دیوتجاردوکان ته روان وم په غلطي کي دجولا کورته لاړم چي دکړکي څخه بنکته کوزیدم سرکه مي دجولا کدي (دټوکر دجوړولولرګي ) ولګیده اوزمایوه سترګه ضایع شوه ماسره دي انصاف وشي پادشاه چي داخبري و اوریدله ډیرپه قهراوغضب شواوحکم ئي وکړو چي جولا راوغواړي [illegible]

نومولوي صاحب هم دحرکت په برکت دهاني لکس ، پجارو، لنډکروزر دبادي ګاردانوخاوند په اسلام آباد کي دعالیشاني بنګلي او دصدارت سرپرست شو هسي خوداقتدار ډیره سخته نشه ده .

استاذربانی چي کله زمونږ «شرعي امیر» مقررشو نوهغه هم قیادي شورا منحل اعلان کړه اوپه دي فارموله عمل وکړو چي په کومه زینه بام سرته وخیژي نوزینه هم دځان پسي دبام سرته پورته کړه چي نورڅوك دپسي ونه خیژي خومولوي صاحب سره څه یل ډول معامله وشوه هغه داچي دهغه دپښوڅخه ځادر رابنکودل شو . خلك په دي نه پوهیږي چي دا مولوي حکم کړي اوکه فتوي ؟ که [illegible]

[illegible]

لخلورم مخ

# عقیدتي درسونه

## لومړی درس

الحمدلله وكفي والسلام علي عباده الذين اصطفي وبعد - بسم الله الرحمن الرحيم .

و لااله الاالله لاشريك له له الملك وله الحمد يحي ويميت و هو علي كل شيء قدير .

ماغوښتل چي دځارندوي په دي تربيتي پروګرام کي شخصاً برخه واخلم .

دځارندوي خاص اهميت دي . تاسي دلقمان دولايت دمرکز داوسيدونکو سر، مال، آبرواوعزت پاسداري اودځارني اوساتني لويه اوستره دنده په غاړه لري. الله پاك دي ددي لوي مسئوليت په ترسره کولوکي تاسوته توفيق درکړي . مسلمان هغه دي چي دبل مسلمان دسر، مال او آبروساتنه کوي اودهغه له لاسه بل چاته تاوان ونه رسيږي . مؤمن هغه دي چي خلك ئي دځپل مال او سر امين وبولي اودهغه په امانت داري ئي باورولري .

مؤمن په امانت کي خيانت نه کوي، خيانت اوايمان سره يوځاي کيږي نه . نوځکه ستاسي مسئوليت ډيرستر او واقعاً دروند دي . مـا دافيصله وکړه چي ددي تربيتي دوري کـي داول نه ترپايه پوري برخه واخلواويه دي ثواب کي مونږهم شريك شو.

ماته چي کوم پروګرام په نظرکي دي اميدي چي په تدريس سره يي په منظم طور ددي دوري ترپايه پوري تکميل کړاي شم چي هغه داسلام اودايمان دلمړي اساسي پاېښتادي مسئلي، دمسلماني اودايمان لويه نښه اوسترشعاردي اوله همدي نه شروع کيږي چي هغه دد لااله الاالله، شعاردي .

داډيره لويه کلمه ده اودالله پاك داټه پيغمبران چي دي داول نه تراتنهاپوري دهمدغي خبري دتبليغ لپاره راغلي . هرپيغمبر د زماني په هر پړا وکي خپل قوم ته وويل شوي دهغه ددعوت خلاصه همداوه چي قوم ته ئي ويلي چي دېرالله (ج) عبادت وکړي چي دهغه نه پرته بل الله نشته . ووايه «لااله الاالله» دپيغمبرانوددعوت خلاصه همداده .

پيغمبرعليه السلام هم خپل قوم ته همداوائي : قولوا لااله الا الله تفلحو نجات مومي ،کاميابيږي دهمدغي کلمي په ويلوسره کاميابيږي .

دانسان دپيدايښت نه ترننه پوري بيادقيام قيامت پوري چي کوم جنګ جاتړدي توهغه همغه جګړه ده چي دهمدي کلمي لپاره ترسره کيږي اوددي لپاره موږچي څومره وينې تويې شي جاتړدي. که ددي ټولي دنيا اوسيدونکي هم ددي کلمي په خاطر په قتل ورسيږي خداي (ج) يي پروانه لري اوچاچي داکلمه وويله سراوويني ئي خوندي وي. پيغمبرعليه السلام فرمائي چي زه مامور شوي يم چي له خلکوسره وجنګيږم ترڅوچي کلمه ووائي ، ترڅو چي ووائي لااله الاالله چي کله ئي د لااله الاالله وويل نوردهغوي سر، مال اوويني له ماته په عصمت کي دي مګروقاتل ، چاچي قتل وکړو دقصاص په خاطراويا دبل کوم بل حق ... چي هغه هم بيانوضيح شوي .

پواځي هغه څوك به جنت ته دروسي چي همداکلمه ووائي . که ددي ټولي دنيا اوسيدونکي ددي کلمي نـه انکاروکړي خداي (ج) ددي پروانه لري چي ټول دوزخ ته واچوي. ټول هغه خلك بـه دوزخ ته دروسي چي داکلمه ئي نه وي ويلي که هر څومره ښيګني وکړي، کـه هرڅومره ستر،ستر کارونـه وکړي لـوي، لوي قهرمانان،لوي،لوي مخترعين وي دانسانيت لپاره ئي ستر ستر خدمتونه ترسره کړي وي چي داکلمه ئي نه وي ويلي اوپه دي ئي باورنه وي دابه دوزخ ته دروسي اوالله (ج) ددي پروانه لري چي داټـول دوزخ ته لاړشي .

اساساً الله (ج) دادنيا دهمدي کلمي دويونکولپاره پيداکړي. ددي ځمکي په سرچي څوك دژوند کولو حق لري هغه ، هغه څوك دي چي پسه دي کلمي ئي باوروي، داکلمه وائي کـه ددي ځمکي په سرددي کلمي ويونکي نه وي خداي پاك دادنيا اوآسمان ټول ختموي، قيامت به هلته راځي چي ددي کلمي ويونکي ددي ځمکي په سرپاته نه شي . ترڅوچي ددي کلمي ويونکي دځمکي په سروي قيامت نه راځي، ځمکه اوآسمان خداي (ج) نه ړنګوي، نه يي نسکوروي . ددي کلمي ډيرسترفضيلت دي . پيغمبر عليه السلام فرمائي چي موسي عليه السلام وويل چي اي زما (ربه) ماته داسي يوڅه وښيه چي زه په هغه سره تاياد کړم اويه هغه سره تاته دعاوکړم تاراوبلم ورته ئي وويل چي ووايه لااله الاالله حضـرت موسي عليه السلام وويل چي زماربه ستاټول بندګان همداکلمه وائي بياهم الله پاك ورته وفرمايل چي وقل لااله الاالله » ووايه چي لا اله الاالله حضرت موسي عليه السلام بياوويل چي : زه دداسي يوه شي اراده لرم چي هغه مختص ماله وي پواځي ماته ئي وښئي الله پاك وفرمايل چي اي موسي که اوه آسمانونه او اوه ځمکي ټول دتلي په يوپله،کيږدي اودغه کلمه په بل پله کي داکلمه به په هغوياندي درنـه وي . ددي کلمي عظمت اودروندوالي هومره دي، که داوه آسمانونه او ځمکي يوطرف ته دتلي او داکلمه بل طرف ته دتلي وي داورياندي درنه ده، ددي کلمي دروند والي،عظمت اوستروالي دومره دي .

همداراز کله چي لـه پيغمبر عليه السلام نـه حضرت ابوهريره تپوس وکړ فرمائي چي يا رسول الله دقيامت په ورځ دستاپه شفاعت ترټولونه خوشبخته اوياسعادته انسان څوك دي چي دابه ترلاسه کوي هغه مبارك ورته وويل چي : ماهم ګمان کووچي ته به همغه لري کس وي چي له مانه به په دي باب تپوس کوي په دي خاطرچي ګورم ته دعلم په نسبت ډيرحرص لري بيا ورته فرمائي چي دقيامت په ورځ به زماپه شفاعت نيك بخته ګڼدونکي انسان ترټولونه هغه څوك وي چي لااله الاالله ئي وويله خودزړه له اخلاص سره . څوك چي صرف په اخلاص سره داکلمه ووايي په معني ئي پوهيدو، په الفاظوئي باورو، په مفهوم ئي باوروُ اوهمداکلمه ئي وويله په دي ئي ايمان ؤ دابه زما دشفاعت نه دقيامت په ورځ برخمن کيږي .

ترټولو غوره ذکرهمدادي ترټولو بهتره ذکرلااله الاالله دي اوبهتره دعاالحمد لله ويل دي . چا چي داکلمه وويله دالله ترعرشه پوري دټولو آسمانونو دروازي دهغه په مخ خلاصي دي ترڅوچي داکلمه عرش ته ورسيږي خداي (ج) ته ورسيږي . همداراز پيغمبر عليه السلام فرمائي چي زه داسي يوه کلمه پيژنم چي بونده ئي په حقه سره له خپل زړه نه وائي اويه هغه باندي مري الله پاك به هغه باندي ددوزخ اوروحراموي اوهغه لااله الاالله دي دچاچي د ژوند آخري کلام، آخري خبره همداشوه دمرګ شيبه ئي وه دنزعي په حالت اويه همدغه وخت کي يي لااله الاالله وويل داجنت ته داخليږي ددي کلمي دومره فضيلت دي، ددي کلمي معني څه ده . تحت اللفظي معني ئي له الله نه پرته بل الله نشته . الله هغه چاته ويل کيږي چي په دعاکي اوعبادت کي خلك هغه ته مخه کړي، دچاچي عبادت کيږي . چاته چي دعاکيږي، هغه ته الله وائي يعني دالله (ج) نه پرته بل څوك دعبادت ورنشته دالله (ج) نه پرته بل داسي څوك نشته چي هغه ته دي لاسونه اوچت شي اودعا دي وشي دهغه مرستي اوکمك دي وغوښتل شي. په دي ځمکي اوآسمانونوکي دالله (ج) نه پرته بل الله نشته بل دغسي معبود چي هغه دي دعبادت وړوي اوانسان دي دهغه لمانځنه وکړي، دهغه ستاينه ، دهغه بندګي اوپرستش دي وکړي نشته ، بل دغسي

ذات چي ددي وړوي چي هغه ته دي دعاوشي، له هغه دي څوك مرسته اوکمك وغواړي دالله (ج) نه پرته نشته .لااله الاالله ، الله (ج) نه پرته بل الله نشته ، الله (ج) ددي هستي پواځي پيداکونکي دي په دي معني خداي (ج) باندي ډيرخلك ايمان لري چي الله (ج) ددي هستي هم پيداکونکي دي هم ئي ساتونکي اوهم يي پالونکي اودلته هرڅه دهغه په اراده کيږي . الله (ج) همداهستي ،ځمکه ، آسمانونه اوځمکه اوآسمانو کي چي څه دي داټي پيدا کړي هم دي دهغه ساتنه هم کوي. دهغه پالنه هم کوي اودلته هرڅه دهغه په اراده کيږي مونږ په همدي معني په الله (ج) ايمان لرو، وايوچي الله (ج) ددي هستي پيداکونکي دي، ددي هستي ساتونکي ،پالونکي او روزونکي دي، دلته هرڅه دهغه په اراده کيږي ، دلته هرڅه دهغه دارادي په وړاندي محکوم دي اوالله (ج) هم ددي هستي خالق دي هم ئي مالك دي، واکداراوټولواك يي دي دلته داموروو زمام دهغه اختيارکي دي دلته دهغه اراده حاکمه ده ، دهغه حکم نافذ دي، دلته هرڅه دهغه په اراده کيږي ، لويه اووړه پيښه ، ستراووړه حوادث ټول دالله (ج) په اراده کيږي .

مونږ وايوچي دالله (ج) سره دهغه په الوهيت کي شريك نشته نـه دځمکي اوآسمانونويه پيدا کولو کـي د هغه سره څوك شريك دي نه ددي هستي په ساتنه اوپالنه کي څوك ورسره شريك شته اونه دهغه داموروو په اداري کي دهغه سره څوك شريك دي. هغه يواځي الله (ج) دي په ربوبيت اوالوهيت کي هغه سره شرك نشته ، زمونږ ددي کلمي معـني همداده ، الله (ج) ددي هستي رب دي. خالق او پيدا کونکي دي، اللـه (ج) ددي هستي ساتونکي اوپالونکي دي، دلته هرڅه دهغه په اراده کيږي ، له الله (ج) سره په دي کارونوکي څوك شريك نشته ، مونږ هرشريك له الله (ج) سره په دي کارونوکي نفي کوو، او دبـل هرذات نه ، هرشته نه الوهيت اوربوبيت نفي کوو، بياوايوچي فقط دي دي . تاسويه حتماً فکرکړي وي چي ددي خبري لپاره تاسوڅه دليل لري چي وړاندي قانع شوي ئي . داسي يقين چي په هغه کي هيڅ کله، هيڅ څه شك راپيدانکړي شي يومعمولي ذري په اندازه شك هم ايمان ته صدمه رسوي . مسلمان بايد په دي هکله پوره باور ولري دا دايمان لمړي نښه او لوي شعاردي . ددي په نسبت دغسي دزړه له کومي، دسلول ، سلول دزړه نه باور ولري چي هيڅ کله هم يوذره شك دهغه په زړه کي راپيدانشي، هيڅ شي دهغه په زړه کي شك راپيدانکړي شي، تاسو په حتماً کله فکرکړي وي چي ددي له پاره څه دليل لري داچي تاسوواېي خداي (ج) ددي هستي پيداکونکي مالك دي، واکداردي دهغه سره شريك نشته اودغسي يوذات شته چي داهستي ئي پيداکړي اودهغه ساتنه اوپالنه کوي،

قرآن عظيم الشان چي دکومي مسئلي په باب ترټولو زيات دلائل ويلي دي هغه همداموضوع ده .ښه ډيردلائل . زه دهغه دلائلونه فقط دري دلته را اخلم . لمړي دليل چي قرآن وړاندي تاکيد کړي هغه دادي چي په دي هستي کي مونږ د ربوبيت مظاهراوآثارګورو يعني څه ؟ ګورو چي هرڅه له هيڅ نه،اوبيا په مدار،مدار ګورو، چي هغه وده مومي اوبيا دکمال يومعين حدته رسيږي، بيا دهغه زوال پيل کيږي اويه مرګ محکوميږي بيرته نيست شي . انسان همدغسي دي چي له نطفي نه دهغه پيدايښت پيل شي اويه مدار،مدارسترکيږي دنياته راشي، دځيلي ځواني اوبلوغ هغه قوت کمال ته ورسيږي بيا له همغه ځاي نه بيرته زوال پيل شي اويه زړښت باندي محکوم شي اودمرګ داعي ته لبيك وايي بيرته همغه طرف ته لاړشي چي راغلي . څوك له دي محکي داعي داجل ته لبيك وائي همدارازنباتات ګورو له يوي وړوکي داني نه دځمکي ترسخت قشرلاندي دهغه وده پيل شي، په مدار،مدارلوکوي بياګوروچي دځمکي زړه وچوي سرړااوچت کړي وده کوي، په خپل ساقه وديږي پاڼي اوګل وکـړي ، ميوه ورکړي اويوهدف ترسـره کـړي، خپل ماموريت پاي ته ورسوي اوپس له هغه چي دهغه ماموريت پاي ته ورسيده زوال ئي شروع شي اوبيرته په مرګ اونيستي باندي محکوم شي . داڅوك کوي، دادهرڅه پيدايښت اوبيا هغه ته وده څوك ورکوي. مونږ وايو همغه ذات چي داهرڅه هغه پيداکړي اوبيا دهرڅه وده اورشد اوڅودهغه په اراده کي دي مونږ دهمدغه ربوبيت پيدايښت اودپالني او روزني دآثارونه په دي ايمان لروچي دلته دغسي يوذات شته چي داکارونه دهغه پـه اراده کيږي، داکارونه هغه کوي .

